مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۴/۰۴/۲۸

# زما کلی

لکه د ښېښتن په لاس د نقاشۍ پرده
لکه د اوبو او ډبرو د مینې یوه رڼه شېبه
لکه زما د ماشومتوب یوه خوله خندا
لکه
له چینو غونډۍ د سیند تر خم پورې
په یوه منډه تلل
لکه د ډنډ پټي په توتو کې د چتکو چڼا
اغا هیلۍ نیولی
مور تناره کې پیرمکي سره کوي
او ما د ختو په راډیو کې د بندي غومبسي
د ننگرهار نغمي ته غوږ نیولی
توره کچۍ غوا له پادې ستنه شوه
بیالې د سپینو نسترنو یوه ځانګه راوړه
او
د انګړ د کبرګل* له پاڼې
یوه رڼه اوښکه
بیا وڅڅېده.

-------------------------------------------------------

*کبرګل یو کمیاب غرنی ګل دی. د زنبق په بڼه، خو غټ او ښکلی ـ له منځنۍ برخې یې هر څو شېبې روسته یو روڼ څاڅکی رارغړي. د دې ګل په اړه یوه اسطوره هم شته.








افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ